انجینیر ف٠ پښتون وردګ
د افغان نړیوالي جرګي نوښتګر

لندن ۲۰۰۹/۰۲/۰۲

د لوی ځښتن په سپېڅلي نامه!

# غېرت بهیر او ورته سیاسیون دې ځواب ورکړي!

غېرت بهیر سېب لندن ته ښه راغلاست٠ په پرونۍ غونډه کې چې تاسي افغانان د خبرو اترو لپاره دربللي ول، په هغې کې ستاسې ډېری خبرې په زړه پورې وې٠ دتاسو د بند کیسه د باګرام په زندان کې خورا دردوونکې وه چې موږ ټولو در سره همدردي ده او د لوی خدای ج ځخه تاسو او د تاسو کورنیو ته او نورو ټولو کړېدلو او ځورېدلو افغانانو ته اجرونه غواړوو٠ او بیا تاسي دا ووېیل چې د بګرام د بند په دوره کې تر ټولو ځخه همدا دردوونکې وه چې هلته تاسو ته یې داسې خبرې کولې لکه ګواکې چې بګرام د امریکایانو د همغوساتونکیو سرتېرو شتمنې، ملکیت او هېواد وي او تاسو په کې پردي یاست٠ موږ هم ستا د خبرو په ډاډ دا وایو چې دا هم په ریښتیا یوه غیرتي افغان او پښتانه ته ډېره دردوونکې او د غیرت او ناموس خبره ده چې په خپل کور کې پردی وګڼل شي!
دا چې ستاسې تور او ګونه یې لا مالومه کړې نه ده، نو دوی خو بایده چې ستاسې پور درکړي٠
په اوس مهال ډېر بې ګونې افغانان که لر دي او که بر په دغه ربړه کې ځورول کېږي٠
موږ په دغه نېږدې ۳۳ کلونو کې د پښتنوبې ځایه او غیر انساني ځورونې او وژنې چې تور او ګونه یې چا هېڅ مالومه نه کړه په کلکه غندواو په ټولو افغانانو او نړۍ والو دا غږ کوو چې هر جنایت چې په افغانستان کې کېږي او شوی دی د هغې غندنه وکړي او د جنایت کارانو مهاکمه غواړو٠ او ټولو افغان او پښتنو کړېدلو او ځورېدلو ته پور او تاوان غواړو٠
موږ د هر کړېدلي او ځوریدلي افغان سره یوو٠
ګرانه بهیر سېب!
اوس به راشو دې ته چې په هغه غونډه کې تاسې دا ووېیل چې وخت نشته او ټولو پوښتنو ته ځواب نه شو وېیلای٠ او بیا د لمانځه ځخه وروسته ډوډۍ هم تیاره وه٠ نو اوس به هغه پوښتنې په نړۍواله کچه وکړو هېله چې ځواب بې راکړئ٠
سره له دې چې برېتانیا یو ولسواکه هېواد دی ،په دې هېواد کې هم تاسې پوښتنې او ځوابونه په ولسواکۍ چاپېریال کې ونکړې ٠ او هېچا ته مو دا اجازه ورنکړه چې پوښتنې په خوله او د مایک له لارې په ښکاره در ځخه وکړي، سره لدې چې تاسې دا په خپله خوله دا سپینه کړه چې"تاسې په افغانانو کې ترټولو ښه راغوښتل شوي یاست .You are the best"
نو بیا اندېښنه په څه کې وه دلته خو نه چا سره ټوپک ؤ او نه هم وسلې اونه هم جنجالیان ؟
دا خو نه پښتو وه، نه ولسواکي او نه هم ډېموکراسيې دا څه وه؟
او نورې پوښتنې چې لیکلې درتللې نو هغه به مو چاڼ کړې او د خپلې خوښې به مو ځوابولې، دا ولې؟
په دې کار سره مو دا پوښتنه هم راولاړه کړه، چې دا ستاسې د ولسواکۍ او انتخاباتیو خبرې مو د دې امل او کړنو سره په ټکر کې دي او که نه؟

اونه هم ستاسې غونډې ته افغاني رنګ ورکړی شو، ځکه چې تاسو ان اتڼ هم ونکړ ٠ نو بیا ځرنګه وایئ چې افغاني کلتور او دود دستور؟ او دا بیا ولې؟

**اوس به راشو ستاسو د خبرو په هکله٠**
لومړی دا چې تاسې ته دا تر ټولو ډېره دردوونکې وه چې د باګرام په بند کې امریکایي سر تېري ووېیل چې دا هر څه د ما دي او ته ورته پردی وې او دا خبره خو نه هم امریکایي پوځ او نه هم امریکایي چارواکو په ډاګه کړې ده چې موږ دا د امریکاد رسمي درېز په ښه وغندو٠
خو که هر چا کړې وي ان که رسمي او که غیر رسمي یې کړي وي موږ یې په کلکه غندو٠
نو اوس پوښتنه دا ده چې تاسو ته همدا پوښتنه او همدا درد په پېښور کې او په ټوله کوزه پښتونخواکې د داودخان د وخت راهیسي نه وو پیدا شوی؟ ( )


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

موړ خو به وېيل چې پلار او نيکونو راته وېيل چې ډيورنډ ککړه کرښه موږ نه منو٠ ځکه چې دا انګرېزي ښکېلاک په موږ په زور تپلې ده او زموږ نيم ځان يې راڅخه بېل کړی دی، نو دا په خپله پښتنه خاوره پېښور او کوېټه او ،،،،، کې را ته پردی او ماجر وېيل کېږي دا موږ ته د باګرام تر بنده ډېر سخت درد ؤ، ان زړه به مو وېرسېدو!
تاسو ته کوزه پښتونخوا خپله خاوره ښکاري که نه؛ ځکه چې تاسې څخه هلته په غونډ کې پوښتنه وشوه چې په کوزه پښتونخوا کې چې کوم ښونځي سوځول کېږي د هغې په هکله تاسې څه واياست؛ نو تاسې په ځواب کې د کوزې پښتونخوا په ځای د پاکستان قبايلي سيمې يادې کړې ، دا ولې؛
افغان ولس د ډيورنډ ککړه ،اغزنه او ښکېلاکي کرښه نه پېژني نو تاسې اوس څه وايئ په دې کې؛
ستاسو مشران او دا نور چې په دغه ډېرش کلنه غميزه کې ښکېل ياست اوس ټول په ګډه څه پکر کوئ؛
دوی (تاسې، ستاسې مشران او دا نور ښکېل) او س څه پکر کوي چې په دوی د کوزې پښتونخوا د ولس او خاورې چې ښکېلاکي انګريز په ځواک ، زياتي او چلونو پنجابي ته د دوی د سمندرې ، ځمکني ، تجارتي او راتلونکيو ګټو او د ګواښونو د مخنيوي په موخه يرغمل شوې، تړل شوې او ورکړل شوې وه ، خپلواکي يې پر دوی (تاسې، ستاسې مشران او دا نور ښکېل) پور او فرض وه که د همدې پښتون دوښمنو په ګوليو د شهيد داودخان په افغاني او ملي زور واک"د لغمان، سرخرود او پنجشېر (۱۳۵۵)"باندې ګوزارونه ؛
تالبانو او هغه کسانو چې وسلې ته لاس کړی دی بايده چې پدې پوه شي چې پاکستان او په ځانګړې توګه آی اېس آی ، د اېران جاسوسي شبکه او د اربو جاسوسي شبکې نه په تېره کې د افغان ولس او سياسيونو ملګري ول او نه تل د دوی ملګري دي، دوی خپلو پخوانيو جهادي ملګرو سره څه وکړل؛
همدا جهادي مشرانو او ګوندونو سره يې په طالبانو سودا ونکړه؛
هغو مشرانو چې د يوې ايډيالوژيکي سيمې جوړولو په سر يې د خپل هېواد تر هر څه تېر شول او په ټول ورانۍ کې يې د آی اېس آی او اېرانيانو غولونکيو لومو کې لوېدلي ول او تر پايه يې سر پرې خلاس نه شو او نه دغه په انګرېزي پوروونو جوړه او تر غوړونو په پوروونو کې غرکه او ټوله وينه يې په پوروونو کې روږدې، ګېډه ( ) يې
ونه پېژندله، چې دې ګيډرانو خو د بې غيرتۍ څخه په دوه پېړيو کې د انګرېزي ښکېلاک په زد يوه ناره او يا هم کومه ډېره وار نکړه او بيا دخدای لپاره د دغه بې غيرته څخه غيرتي افغانان نور څه تمه د غيرت لرئ ، د دوی په سر يې هم نوي غولېدلي تالبان راپورته کړل او دوی يې پرې هم وځپل، دوی به کله راويښ شئ؛
او بيا يې د تالبانو په سر سودا وکړه او بيا يې د دوی سره هم دوکه وکړه او د سپټمبر د ۱۱ مې ۲۰۰۱ کال څخه ورسته دوی په سر يې ځومره پيسې واخيستې؛
دوی بايده چې دا له دې خپل سياسي تاريخ څخه زده کړي٠ او تاسې او ملا ضعيپ هم په همدغو تورو سوداګانو له به مرغه وکړېدلئ٠ نو تاسو به له خپل ډېرش کلن سياسي تاريخه څه زده کړئ؛
او زموږ نوي نسل ته به د خپلې ډېرش کلني تاريخي تجربې په شان څه په ډالۍ کې ورکړئ؛
همدا مشران او س څه پکر کوي چې د هغه سپي مخيو، تور زړيو او خوسا آنديو ګاونډيانو او په ځانګړې توګه آ ی اېس آی ، کې جې بې ، سي آی اې، اېم آی شپږ، او اېراني او نورو جاسوسي شبکو په وسلو افغان هېواد ويشنته او خپل پښتانه وژنه څرنګه وه؛
بله خبره تاسې دا وکړه چې"موږ ډېرې د غرونو په شان ګونې او غلتۍ کړي دي٠"خو نه تاسو د ولس څخه ښننه وغوښته او نه مو هم د جنايت کارانو مهاکمه٠ دا د غرونو په شان ګونې خو يو ځل نه دوه ځله نه درې ځله نه، دا خو په دې نېږدې پينځه ډېرشو کلونو کې کېږي او رواني دي او دا ولې نه درېږي؛
دې ولس ،کړېدلو او ځورېدلو او راتلونکي نسل ته څرنګه ډاډ ورکوئ؛
ستاسې يواځې شپږ کاله بند نه دی هېر چې موږ هم درسره همدرده ياستو، نو بيا دا د دوه مېليونه افغانانو وينې به څرنګه هېرې شي او ولې ؛ هر وار چې يوه واکمن په خپل سر ښننه کړې بيا د ليلی دښته ډکه شوې، کابل وران شوی، شېرپور چور شوی، پليګونونه ډک شوي د هېواد د شتمنيو د غلو ښځې په کاناډا او دوبۍ کې دغلا کړشويو پيسو سره نيول شوي، بانکونه، د شازاده سرای چور شوی، شبرغان کې په زرهاوو پښتانه په ډله ايزه توګه وژل شوي دي، د پېښور په نهرونو کې په پښتانه زندۍ شوي او ډېری يې شهېدان کړل شوي دي٠ او دا ټول نن هم هره ورځ تکرارېږي٠

او د تکرار مخنيوی به يې څرنګه کېږي په کومو وسايلو او زمانتونو؛
که يو ځل بيا په افغانستان کې ستاسې د خوښې حکومت جوړ نه شو او بيا د نورو سياسي ګوندونو سره په جنجال شوئ د دې څه ډاډ او زمانت شته چې تاسې به بيا د پاکستان (د نيم افغانستان د خاورې او ناموس نيوونکي چې انګرېزي ښکېلاک ورته يرغمل کړی دی) او يا هم اېران او کوم بل پردي هېواد په وسلو او پيسو ځان نه سمبالوئ؛


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

او كه يا تاسې او يا هم كومه بله ډله داسې وكړي ستاسې خپل دربځ به څه وي او لر او بر افغان ولس ورسره څه وكړيږ

كرزي سېب هم په خپل سر ټولو جنايت كارانو ته ښننه وكړه او بيا ترې سر هم ټكوي اجېبه ده٠
كه جنايت كاران مهاكمه نه شي نو عدالت په څرنګه په ځاى كېږي او سوله او سوكالي په څرنګه راځيږ
وايي له كلي ووځه خو له نرخه مه وځه! جنايت كاران هم له نرخه وتلي او هم يې د پښتنوټولي سپېڅلې تيرېږ تر پښو لاندې كړي دي٠
زموږ په آند په افغانستان كې دجنايتكارانو ، ټوپكيانو او د سرېتوب تېري كوونكيو( *Human Rights Violators, Warlords and War Criminal)* داسې پرېښودل بې مهاكمې او سزا، دا تر ټولو لوى خيانت، غلتې او لويه بلا ده ٠ ددې سره دوه لويې ستونځې تړلې دي٠
لومړى به بيا هم همدا جنايتكاران ، ټوپكيان او د سرېتوب تېري كوونكي ( *Human Rights Violators, Warlords and War Criminal)*به لويه كچه جنايتونه او خيانتونه وكړي په خلاس لاس ٠
دويم، دوى به د راتلونكو نسلونو لپاره بېلګېزې او رول ماډل شي٠ چې دا بيا د چا پلار هم نشي سمولى٠ دا دواړه ستونځې نه يواځې دا چې په غټه كچه په ستركو كېږي او همدا شان په خورا چټكۍ سره په لوړېدو او ډېرېدو دي٠
دوى همدا اوس دا ټول جنايتونه كوي٠ د مخدره توكيو د كاچاك څخه نيولې تر په ماشومانو تېري، وژنې، بډو او،،،،،،،،،،،،
موږ دغه د ، لومړى سيستم او يا هم د امريكې د وتلو پلويان، په دغو پوښتنو ننګوو چې دا كار مو د ٢٠٠١ د اكتوبر څخه كړى دى، دا زمانت او داډ څوک وركوي چې يو وار مو دا سيستم جوړ كړ دا سم وي او د ښېګنې خواته بوتلل شي او يا هم ولاړ شيږ
د د ې ستونځې سره چې د راتلونكو نسلونه په لاندېني ځان ځري ( Subconscious، ما تهت زمير)كې جنايت او خيانت د سم كار په ډول وكرل او ځاى پر ځاى شي به بيا څه چلند كوئږ
تاسې خو سيستم نه جوړوئ ، خو دغه لوى لوى جنايتكاران، ټوپكيان او د سرېتوب تېري كوونكي( *Human Rights Violators, Warlords and War Criminal)* په دغه سيستم كې تل پاتې چاغوئ او ځاى پر ځاى كوئ ٠ دا به بيا څرنګه سموئږ
د سوكرات، اپلاتون او ارستو (Socrates, Plato, Aristotle ) چې ټوله نړۍ ورته د پلسپې پلارونه او څېړوونكي وايي او دولسواكۍ، عدالت او د جمهوريت ليكنې يې تر ننه پېرزويل كېږي، د دوى په لاندېني ځان ځري ( Subconscious)كې مريي او وينځې نيولو، ساتلو او په ازاده جنسي تېرى كولو او خرڅولو جنايت او خيانت د سم كار په ډول كرل او ځاى پر ځاى شوي ول نو دغو اوچتو انسانانو هم دغو جنايتونو په زد يو ټكى هم نه دى ليكلى٠ بلكې مريي او وينځې نيولو، ساتلو او خرڅولو ته يې د يوه عادي او د ټولنې يو زروري كار په څېر كتلي دي٠ ولې مرېيونه او وينځې انسانان نه ولږ هغوى د موره په ځولنو تړلي څېرېدلي ول د همدو جنايتونو لپارهږ دا ولېږ
دا ځكه چې په هغه وخت كې د دوى په لاندېني ځان ځري ( Subconscious)كې مرېيتوب او وينځېتوب نيولو، ساتلو او په ازاده جنسي تېرى كولو او خرڅولو جنايت او خيانت د سم كار په ډول كرل او ځاى پر ځاى شوي ول او دا د انسانيت په زد رزيل امل او تيرى ورته سم ښكاره شوى ؤاو دوى هم پرې ككړ ول ځكه چې دوى هم ترې ډوډۍ خوړله!!
نن به په نړۍ كې داسې څوک وي چې يو انسان مرېيى او وينځه كړي او بيا جنسي تېرى پرې وكړي او بيا يې خرڅ كړيږ دا د نړۍ سرېتوب او انسانيت به ورته څه وواييږ
نن سرېتوب او انسانيت (Humanity and Civilization ) په هغو غلاميو او مرېيو او وينځو نيوكنيو، تېري كونكيو او خرڅونكيو باندې تو نالت وايې٠ او ان برک اوباما په خپلو تاريخي ويناوو كې مرېيېتوب ته پېغور وركوي٠ نور خو لا پرېږده٠
خپلواكه او سر لوړى پښتون ولس به څه پكر وكړي او څه به وكړيږ اور خو به واخلي! (

*!*

*(!*

نو اوس موږ دا وايو چې د انسانانو په لاندېني ځان ځري ( Subconscious، ما تهت زمير)كې جنايت او خيانت د سم كار په ډول كرل او ځاى پر ځاى كېدل په هر وخت كې كېدونكي دي او دا چې بيا بېلګيزه او رول ماډل هم ولري نو دا


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

کار په ډېر چټکۍ سره تر سره کېږي٠ په نو که چېرې مهاکمه ونه شي نو دغه ختره ډېره ډاروونکې ده چې زموږ راتلونکي نسلونه چې دغو جنايتکارانو ، ټوپکيانو او د سړيتوب تېري کوونکيو تر اغېزې لاندې راشي او د دوی په لاندېني ځان ځري ( Subconscious، ما تهت زمير)کې جنايت او خيانت د سم کار په ډول به وکړل او ځای پر ځای ٠ او دې ته بايده چې داسې په سپکه ونه کتل شي!

دا تر ټولو د خطره ډکه ستونځه ده چې يوه ملت او ولس ته ور دغاړې شي٠

همدا اوس په سلهاو او زرهاو داسې کيسې شته چې دغه جنايتکارانو ، ټوپکيانو او د سړيتوب تېري کوونکيو ( *Human Rights Violators, Warlords and War Criminal*)تر اغېزې لاندې راغلي او يا هم ورپسې روان چې دوی دا کار د يوه سم کار په توګه منلی او يا يې هم په لاندېني ځان ځري کې کرلی شوی دی٠ دوی په خپلو ساده مجلسونو کې او يا هم پوليسو ته په خپلو منلو کې داسې ورته څرګندوني کړې دي" څوک يې پروا کوي، لوی لوی ليډران او مشران يې کوي، چا دلويو جنايتکارانو ، ټوپکيانو او د سړيتوب تېري کوونکيو ( *Human Rights Violators, Warlords and War Criminal*)څخه پوښتنه وکړه چې له موږه يې وکړي، موږ اړيکې لرو او يا به هم په بيه واخلو، څوک به پوښتنه وکړي، د وتلو لاره خامخا شته لکه څرنګه چې لويو لويو جنايتکارانو ، ټوپکيانو او د سړيتوب تېري کوونکيو ځانونه وبخښل، بيا خو نو بهرني د انسانيت او سړيتوب ملګري به ومومو!

د دغه کسانو شمېره په خورا چټکۍ سره په زياتېدو ده چې لکاوو او مېليون ته رسېږي٠ موږ په خپله دا ارزونې کړي او د ځوانانو څخه مو پوښتلي دي په کراتو مراتو د غه رول ماډل په هکله٠

ما دا پايله را ايستلې ده چې ډېری ځوانان په ناپوهۍ کې د دغو جنايتکارانو ، ټوپکيانو او د سړيتوب تېري کوونکيو( *Human Rights Violators, Warlords and War Criminal*) تر اغېزې لاندې راغلي او دوی ورته ښه ښکاري او د وس په وخت کې به دوی ته ورته کارونه وکړي ٠ ځکه چې د دوی بډای توب او ځواک او درب، د خلکو سترګې بريښوي٠ او داهم ورته بده به نه ښکاري چې که ان جنايت ، هېواد پلورنه، هم دوی بډای کولی شي نو دوی به ورته لاس واچوي، د دې پر ځای چې ډېرې سختې وګالي او يا هم په سبک او پوهه ځان ورسوي٠

افغان ولس يوې مردارې کړۍ او دورې ته ورټېل وهل شوی دی، چې جنايتکاران ، ټوپکيان او د سړيتوب تېري کوونکي زموږ ځورېدلي او کړېدلي ولس ته بېلګيزه او رول ماډل شوي دي٠

دا ولس او خلک دي چې سيستم جوړوي نه جنايتکاران، ټوپکيان او د سړيتوب تېريکوونکي٠

موږ خو سيستم درلود هغه ولې ړنګ شو؟ دا اوسنی سيستم خو د جنايتکارانو ، ټوپکيانو او د سړيتوب تېري کوونکيو لپاره يوه وسيله ګرځېدلې او دوی به دا د خپلو شيشکو زړونو خيالونو لپاره سمبال کړي او نور کړېدلي او ځورېدلي او غچ اخيستونکي وځېږوي ( د مزار، کندوز، تخار، کابل هلمند ،،،،،،،،، پېښې په ياد ولرئ)٠ او دا په دغه اوو کالونو کې چې څومره جنايتونه شوي دا په ډېرېدو دي که په کمېدو؟

داسې د لويې او يا وړې کچې جنايت نشته چې په هغې کې د دغو لو يو جنايت کارانو او د سړيتوب تېري کوونکو او ټوپکيانو ونډه او اغېزه نه وي! څو ک يې دې راپه ګوته کړي!

ما په خپله د ډېريو افغان سياستوالو، پوهانو او مشرانو چې د ډيورنډ د دوزخي کرښې دواړو خواوو ته اوسېږي، داسې اورېدلي دي چې افغان ولسمشر دغو جنايتکارانو ، ټوپکيانو او د سړيتوب تېري کوونکيو( *Human Rights Violators, Warlords and War Criminal*) ته يرغمل دی او ان داچې ده په خپله په کراتو مراتو دا ويلي دي چې د دغو جنايتکارانو ، ټوپکيانو او د سړيتوب تېري کوونکيو تر شا بهرني هېوادونه دي او د ده زور او وس پرې نه رسېږي٠ کرزی سېب خو نو جينجړ دی ٠ ده دا هر څه په خپله کړي ځکه دوی يې ټول په څوکيو ونازول او هم يې وبخښل٠

دا د افغانستان لپاره په د ننه کې تر ټولو لوی ختر او ګواښ دی٠

زه په ډېره ډاډمنتيا دا خبره کوم چې ، په تېر کال کې چې په هلمند کې د ترهګرو په ککړو لاسونو او شيشکو زړونوکومه ډله اېزه وژنه وشوه او زموږ يو شمېر هېوادوال په داسې دکانې زړه وهشت اوناروا سره شهېدان کړل، او ددوی مرۍ غوڅې کړای شولې٠ هغو کسانو چې چړې يې په لاس کې او د غو پاکو پښتونو مرۍ يې پرې کولې په هغه د پايلې په شپبو کې به ځان سره دا ويلي وي چې څوک يې پوښته کوي او هېڅوک به دوی د مهاکمې مېز ته راکش نه شي کړای٠ پدې کې هېڅ شک نه شته چې په دغو ترهګرو باندې همدا د جنايت د زړه بوږنوونکيو اغېزې هم شته دي٠او بله دا هم چې دوی ته دا روزنه او زده کړه په پاکستان او يا هم اېران کې ورکړله شوې چې د دوی ماغزه يې مينځلي دي او په ترهګرۍ او زياتي پلوی او جنايت او هېواد پلورنه باندې ککړ کړي دي چې دا کارونه يې ورته



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

دومره سم او روا ښکاره کړي دي چي نه يواځې دوى ته پرې د واک او پيسو دلاس ته راوړلو وسايل ګرځېدلي بلکې پدې کار سره به ګواکي دوى جنت هم وګټي!

او دا ښکاره خبره ده چي دا وژونکي د پاکستان او اېران د پوځې او استخباراتي ګټو لپاره يې دا ټول جنايتونه کوي. دا د پاکستان او اېران د سرېتوب زد، ترهګرى او زياتي پلوى په مدرسو کې اړول شوي کسان دي او ښکاره ده چي د لويو لويو جنايتکارانو ، ټوپکيانو او د سرېتوب تېري کوونکيو د رول ماډل (د پلاني پېښي کوي ) تر اغېزې لاندې راغلي هم دي.

اوس به راشو بلي پوښتني ته.

تاسي ووېيل چي بهرني پوځونه دې ووځي. کېداى شي چي مهال وېش ورته وټاکل شي. تاسي څه ډاډاو زمانت وړاندې کوئ چي بيا د ١٩٩٢ تر ننه پېښي د پاکستان او اېران او روسانو لخوا تکرار نه شيږ که يو ځل بيا په افغانستان کې ستاسي د خوښي حکومت جوړ نه شو او بيا د نورو سياسي ګوندونو سره په جنجال شوئ د دې څه ډاډ او زمانت شته چي تاسي به بيا د پاکستان (د نيم افغانستان د خاورې او ناموس نيوونکي چي انګرېزي ښکېلاک ورته يرغمل کړى دى)

او يا هم اېران، روس او کوم بل پردي هېواد په وسلو او پيسو ځان نه سمبالوئږ

او که يا تاسي او يا هم کومه بله ډله داسي وکړي ستاسي خپل دربځ به څه وي او لر او بر افغان ولس ورسره څه وکړيږ

نو بيا دا هم واورئ چي تر څو موږ په هېواد مين خلک سره يو نه شو که افغان لر دى که بر دى، او دا لاندې خبرې سره د نړى په کچه وړاندې نه کړو نه به سوله راشي او نه به پاکستان او نه به اېران اونه به ناټو او امريکه او به روس او ترکيه او عرب د دېښتنو هېواد داسي په کرار پرېږدي.

نوراځئ چي د دغه لاندينيو خبرو ملاتړ وکړو!

- موږ بايده چي د ناټو او امريکې په پاليسيو کې داسې بدلون راولو چي دوى افغان ولس ته غوږ شي او د ملګرتيا ( Partnership)په لور وخوځېږي.
- د دې کار لپاره موږ بايده چي خپل د پښتنو دود دستور او سياسي مهارت په کار واچوو.
- افغانان بايده چي سره غونډ شي او يوه نړى واله جرګه د اغېزې اچوني يا لابي (Lobby) لپاره جوړه کړي. چي دا جرګه به د سرېتوب، د سرېتوب ودې او ملګرتياوو لپاره اغېزه واچوي او لابي وکړي. د دغې افغان نړىوالي جرګې د غږ او جوړېدو ملاتړ د هالند په نړىوال کنپرانس کې( ٢٠٠٨-١٢-٢١) وشوچې د فاور ( www.diaspora.org)په پرېکړه ليک کې پرېکړه پرې وشوه. او هم د لندن په ښار کې ډېرو پوهو او په هېواد مينو ځوانانو ورته تود هرکلى کړى او ملاتړ يې ترې کړى دى.
- راځئ چي موږ سره د نورو افغانانو چي دنړى په ګوټ ګوټ کې اوسېږي هغه تاريخي رول ولوبوو چي نور افغان يې که د ننه په افغانستان کې او که په بهر کې په جلا جلا ډول نه شي لوبولاى. او د هغوى مرستندوى او پشېړوونکي شو. دا ځکه چي د افغانستان په دننه کې دافغانستان په هکله د افغانستان سياسي ، کلتوري او ملي مشران چي کوم غبرګونونه او غوښتني د امريکې، ناټو او ملګرو ملتو څخه کوي هغه دلته په غربي نړى کې نه هم اورېدل کېږي او نه هم څوک ورپسې ګرځي. دا ځکه چي، هرڅومره لويه پېښه چي په افغانستان کې وشي هغه يواځې په يوه خبر کې او يا هم د غربي هېوادونو د سپارتونو په يوه ليک کې څرګنده شي او بس. او دا د غربي نړى ولسونه بې خبره پاتې وي. دا د افغانستان په تلوېزيونو کې او په ټولو نورو خبري رسنيو کې دا ټول کار پوهان دي که سياسيون دي او او که ملي څېرې، دا ټول همدا يوه خبره کوي چي دابه د افغانستان چارواکي او دواړه جرګې مني به په چا. څوک خو په غربي نړى کې ورته غوږ نه نيسي. موږ به خپل کار هله پشېړ کړو چي هم په ننه ګران هېوادلر او بر افغانستان کې او په غربي نړى کې د خپلو روا او انساني غوښتنو لپاره کار پيل کړو. او د ټولو په هېواد او ولسواکى او پښتونولى مينو افغانانو که لر دي که بر چي زموږ د دغه غږ ملاتړ وکړي تر څو چي موږ خپله خبره ځاى ته ورسوو .او د دغه او سني سياسي کسابى څخه افغان ولس وژغورو. ځکه چي موږ تاريخ، وينه ، آند او دود دستور د خپلواکى لرو. دا د يما، کنشکا، سوريانو، لوديانو، غوريانو، خوشال خان، هوتکيان، ابداليانو، اکبر، غازي محمد جان خان، مير مسجدي، ملالى، ازرت پاچا خان ، خان اودل سمد خان، پکير ايپي، ملا پاونده، او په زر هاوو نورو اتلانو بچيان به يوځل بيا له ځانه پردى اندې دوړې لرې او د خپل غيرت، کلک ايمان، دود دستور او پوهې په برکت به خپله خاوره او ولس که لر دى او که بر دسيالانو سيال کړي او د دې سيمې خپل برم به بيا په خپلو پخواو افغاني مټو ترلاسه کړي. که غيرتي خداى کول.



افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

- موږ دا وایو چې ، نو همدا دغربي نړۍ ولسونو په مرسته به د غربي نړۍ سیاست بدلیږي او سیاسیون به یې په افغانستان کې د موږ په خوښه د ملګرتیا ( Partnership)سیاست کوي٠
- موږ بایده چې خپل د انسانیت او سړیتوب غږ د لودیز د انسانیت او سړیتوب غوږونو ته ورسوو٠ یواځې به همدا غږ او پیغام د امریکې، ناټو او نورو سیاسیونو دریز بدل کړي٠اوپایښتي بڼه به غوره کړي٠

زموږ روا او انساني غوښتنې دا دي:

١. موږ په پاکستان او ایران کې د هغو ترهګرو او ځان وژونکیو جوړونو، ځالو، روزن ځایونو او پټنځایونو ړنګول غواړوو چې نه یواځې دا چې دا ځالې د افغانستان پر زد بلکې د نورې نړۍ پر زد هم پکاریږي٠ د دوی سمبالوونکي، مرستندویان، پیسې ورکوونکي، او لارښوونکي بایده چې د مهاکمې مېز ته راوکاږل شي او د دوی څخه موږ خپل پور غواړو چې دا پور زموږ ځورېدلو او کړېدلو ته په نړۍ واله کچه ورکړل شي٠
٢. موږ د هغه جنایت کارانو ، د سړیتوب تېریکوونکو او ټوپکیانو او جنګي جنایت کارانو( *Human Rights Violators, Warlords and War Criminal*)سملاسي نیونه او مهاکمه غواړو چې پدې تېرو ٣٠ کلو کې یې تېري کړي دي٠ موږ د ناټو، امریکا او ملګرو ملتو څخه په کلکه غواړو چې په افغانستان کې دې د سړیتوب تېریکوونکو ،ټوپکیانو او جنګي جنایت کارانو ( *Human Rights Violators, Warlords and War Criminal*)دملاتړ څخه لاس په سر شي٠ دوی پېژندل شوې څېرې دي چې افغان کړېدلي او نړۍ وال د سړیتوب د ساتنې ګوندونه یې پېژني٠ او هم د امریکې ا و ناټو د غلتو برید کوونکو پوښتنه او مهاکمه غواړو او پښتنو کړېدلو او ځورېدلو ته په نړۍواله کچه پور او تاوان غواړو٠
٣. موږ د افغانستان دولسواکۍ او چارواکۍ ( Establishment, System) جوړښت په خپل دود دستور جوړول غواړو٠ موږ د جرګې او اتڼ او خپل دود دستور رغنده وده غواړو او مخالپان یې د افغانستان او ولسواکۍ غلیمان ګڼو٠
٤. موږ د جنایت کارانو او سیاسي ګوندونو تر مینځ تو پیر کوو٠ جنایت کاران هغه کسان دي چې په دغه تېرو ٣٢ کلونو کې یې بې وسه او بې ګونې افغانان یې ،پرته له کومې مهاکمې او پوښتنې، په ډله اېزه توګه وژلي دي او هېواد یې هم وران کړې دی او هم یې خرڅ کړی دی٠ جنایت کاران هغه کسان دي چې افغانان یې د بېل آندۍ په سر ،پرته له کومې مهاکمې او پوښتنې،وژلي دي٠
٥. دغه جنایت کارانو زموږ دغه ښکیل سیاسي ګوندونه هم بد نامه کړل ٠ نو اوس د دې وخت رارسېدلی دی چې ټول په ګډه دغه جنایت کاران هم وغندو او هم یې مهاکمې مېز ته راکش کړو او هم د کړېدلو او ځورېدلو لپاره پور ترې واخلو٠
٦. موږ په پرمختیایي پروژو کې د افغانستان د بیا ودانولو لپاره سمه ډېرېدنه غواړو٠
٧. دا د سړیتوب او انسانیت خبره او پیغام هغه سپېڅلی ارمان دی چې پر مخ تلونکی او ویښوونکی دی، او د ټولې نړۍ د ساتلو اوهمدا شان د ترهګرۍ ، ځان مرګي برید او د انسانیت زد او جنایت د مخ نیوي لپاره او چت شوی چې زموږ د دوه مېلیونه افغان شهیدانو ارواګانې به ورسره ښادې شي!

خدای مو مل شه٠
په درنښت
٢٠-٠١-٢٠٠٩


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de